## اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غونډه

| | |
|---|---|
| **نېټه** | ۱۳۹۹ کال، د لیندۍ ۲۲مه |
| **ځای** | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون دفتر، کابل، افغانستان |
| **د غونډې رییس** | د کمېسیون رییس او کمېشنر ښاغلی عین الدین بهادري |
| **ګډونوال** | د کمېسیون مرستیاله آغلې نجیبه مرام، منشي ښاغلی حمدالله ارباب، کمېشنره آغلې زهرا موسوي، د دارالانشا رییس ښاغلی عصمت‌الله حیدري، د شکایتونو آمر ښاغلی رحمت الله پېروزي او د عامه پوهاوي آمر ښاغلی خلیل جیحون. |
| **دغونډې تنظیمونکی** | آغلې فائزه رضایي |

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون (اونیزه) غونډه چې ۱۳۹۹ کال، د لیندۍ په ۲۲مه، یکشنبه د پورته ګډونوالو په شتون کې جوړه شوې و. په لاندې موضوعاتو بحث او د اندونو تبادله وکړه:

1. د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې لومړی د ملي راډیو تلویزیون، کورنیو چارو وزارت، بهرنیو چارو وزارت، سترمحکمې او مرکزي بانک په اړه د شویو شکایتونو ته رسېدنې د کمېسیون د غړو لخوا بحث او خبرې اترې وشوې او د هرې ادارې په هکله په لاندې ډول پرېکړې وشوې:

- **ملي راډیو تلویزیون:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د درج شوي شکایت خېړلو او د اړوند شکایت وروستي کولو په پار د ملي راډیو تلویزیون د اطلاع رسوني مرجع مسوول او همدرانګه د پژواک د دفتر اړوند کارکوونکو سره غونډه ترسره شي. په یاده غونډه کې به د دارالانشا رییس ښاغلی عصمت الله حیدري او حقوقي سلاکار ښاغلی محمد حسن پویا ګډون کوي.
- **کورنیو چارو وزارت:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د غوښتونکي درج شوي شکایت ته د رسېدنې په پار د کورنیو چارو وزارت له یو لوړپوړي او غوښتونکي سره ګډه غونډه وکړي ترڅو یوې پایلې ته ورسېږي. دا لیدنه په د کمېسیون منشي ښاغلی حمدالله ارباب همغږې کوي.
- **بهرنیو چارو وزارت:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د شکایت خېړلو او وروستي کولو لپاره د ا.ا.ج له بهرنیو چارو وزارت وزیر ښاغلي حنیف اتمر او اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غړو ترمنځ لیدنه ترسره شي. دا لیدنه په د کمېسیون منشي ښاغلی حمدالله ارباب همغږې کوي.
- **ستره محکمه:** د کمېسیون د دارانشا رییس په وینا، د قضایه قوې اداري سرپرست آمر ژمنه کړې چې د یوې حضوري غونډې په لړ کې به د (سیدعظیم) د شکایت سکالو د طرفینو په شتون کې وڅېړي. د کمېسیون د مشرتابه پرېکړه وکړه، که چېرته دا مسله په دې غونډه کې وروستۍ نه شوه، بیا به اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون په دې برخه کې اړین اقدامات وکړي.
- **مرکزي بانک:** شکایتونو ته د رسېدنې آمریت د بیا، بیا ځلي اړیکو په پایله کې د هغوی لخوا کوم ځواب نه دی ترلاسه کړی او ستونزه نه ده حل شوې. نو پر همدې بنسټ د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د


خانه چهارم، سرک ششم قلعه فتح الله، شهر کابل، کابل، افغانستان
www.askforinfo.af www.aic.gov.af info@aic.gov.af ۰۰۹۳(۰)۷۸۹۶۰۵۹۷۳

افغانستان اسلامي جمهوریریاست عالي مقام ته یو مکتوب ولیکي او له سره هغه ټول مکتوبونه چې له دې مکتوب وړاندې مرکزي بانک ته استول شوي وي له دې مکتوب سره مل کړي.

- **د څارنې او ارزونې آمریت ته د روڼتیا څار اداري لخوا ښوونیز پروګرام:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې په دولتي بنسټونو کې اطلاعاتو ته د لاسرسي څارنې او ارزونې څرنګوالي لپاره د یو عالي میکانیزم لرلو په پار، د روڼتیا څار اداري څخه وغوښتل شي ترڅو د څارنې او ارزونې آمریت کارکوونکو ته یو لنډ مهالی ښوونیز پروګرام ترسره کړي. له دې سره د څارنې او ارزونې آمریت، د څارنې او ارزونې اړوند د پام وړ مواد ترتیب او وکاروي.سربېره پر دې، د کمېسیون د دارالانشا رییس ښاغلی عصمت الله حیدري دې توبې ته یو رسمي بربېنالیک واستوي او اطلاعاتو ته د لاسرسي څرنګوالي په هکله د څارنې او ارزونې طریقو په تړاو د هغوی اند ترلاسه کړي.
- **د کمېسیون تفتیش:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون په کړنو کې د روڼتیا، احتمالي نیمګړتیاوو او ستونزو ته د رسېدو لپاره د کمېسیون د تفتیش غوښتونکي شول. په دې منځ کې له بې طرفو ادارو لکه؛ د اداري فساد پر وړاندې مبارزې ګډه خپلواکه اداره، د افغانستان روڼتیا څار اداري څخه د تفتیش غوښتونکي شول.

**د دارانشا رییس ښاغلي عصمت الله حیدري لخوا د کمېسیون اوونیزو کړنو په هکله د راپور وړاندې کول**

2. **عمومي پلان:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې ډېر ژر دې د کمېسیون ټول آمرینو او د کمېسیون د غړو ترمنځ د پلان په هکله ګډه غونډه وشي، اندونه او نظرونه راټول ترڅو وروستی شي.
3. **دننی غونډه:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د اونۍ له پیل تر پای پورې هره ورځ یو ساعت د کړنلارو وروستي کولو په پار د کمېسیون دمحترمو غړو او د کمېسیون حقوقي سلاکار ښاغلي محمد حسن پویا په شتون کې ترسره شي.
4. **د جنیو ګډې همکارۍ چوکاټ:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د مالیې محترم وزارت څخه دې پوښتنه وشي چې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون لپاره اطلاعاتو ته د لاسرسي اړوند شاخص زیات شوی دی که نه.
5. **امتیازي معاش:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د کمېسیون غړو او د دارالانشا رییس ته د امتیازي معاش په پام کې ونیول شي او د ولسمشرۍ ماڼۍ عالي مقام ته دې عنواني مکتوب ترتیب شي. اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون هریو کمېشنر لپاره180000 (یو لک او اتیا زره) افغانۍ امتیازي معاش وړاندیز وشي. همدارنګه د دارانشا رییس لپاره هم امتیازي معاش په پام کې نیول شوی او یو بل وړاندیز له لارې د ولسمشرۍ ماڼۍ عالي مقام ته واستول شي.
6. **کارکوونکو ته د ښوونیزو ټولګیو داېرول:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د کمېسیون د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په پار ښوونیز ټولګي لکه انګلیسي، کمپیوټر او نور ټول مسایلو ټولګي دایر شي. په دې هکله به له همکارو دفترونو سره خبرې وشي ترڅو په دې برخه له کمېسیون سره د خپل توان ترکچې همکاري وکړي.



کمیسیون نظارت دسترسی به اطلاعات | کمېسیون
۱۳۹۴ هـ ش
Oversight Commission on Access to Information

7. **اطلاعاتو ته د لاسرسي ائتلاف یا حق غوښتنې شبکې رامنځته کول:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د خبریالانو او مدني ټولنې په ترکیب یو ائتلاف\شبکه یا مشورتي شورا رامنځته شي. ترڅو غوښتونکي ته د اطلاعات نه ورکولو او ځواب نه ورکولو په صورت کې د غوښتونکو شکایتونو په هکله بحث د اندونو تبادلې وشي او اړینې پرېکړې وکړي.
8. **عامه پوهاوی:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د نن له دفتر سره یوه غونډه تنظیم او اطلاعاتو ته د لاسرسي په سکالو خبرې اترې وشي.
9. **له ښاغلي عتیق‌زي سره د غونډې کول:** د جي‌آی‌زیډ دفتر مرستو ترلاسه کولو لپاره ، اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د دارالانشا ریاست کاري پلان په رڼا کې له ښاغلي عتیق‌زي سره غونډه ترسره شي. له دې سره سم باید هڅه وشي چې د یاد دفتر اوږد مهالې همکارۍ جذب او کاري ساحه یې مشخصه شي.

په درنښت

د کمېسیون رییس عین الدین بهادري

د کمېسیون مرستیاله نجیبه مرام

د کمېسیون منشي حمدالله ارباب

د کمېسیون کمېشنره زهرا موسوي

کمیسیون نظارت دسترسی به اطلاعات | اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون | Oversight Commission on Access to Information ۱۳۹۴ هـ ش